AFGHAN GERMAN ONLINE
افغان جرمن آنلاین
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۱/۰۱/۰۸

# د ډنمارک په تعلیمي نصاب کې د پښتو شعر پل

## (نړیوالي کیسي)

## پنځمه او وروستۍ برخه




**په کتاب کې د راغلو لنډیو پښتو متن:**

که دیدن کړې تلوار راوکړه
بېرۍ ډوبېږي په تخته ولاړه یمه

د مخ هډوکي مې ښکاره شول
سېلاب داوښکو پرې راځي غوښې یې وړینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

یو واری بیا پر دې لار راشه
په پخوانو پلونو دې پرېوتل ګردونه

زړګی مې غواړي اوښه شل شي
په څڼاسته تېر شولي و نه شول دیدنونه

چې توره نه کړې نو به څه کړې
تر نیمایي کندوه زه ورسره ځمه

د مساپر یار څنکدن دی
مخ یې وطن ته کړئ چې سا یې وخېږینه

**د لنډیو ډنمارکي متن:**

## Traditionelle landay

Du skal skynde dig, hvis du vil møde mig,
for skibet synker, og jeg står på en knækket planke.

Mit ansigts knogler træder frem,
som min tårestrøm bærer kødet på mit kranie bort.

Kom igen en gang denne vej – jeg be'r dig,
dit fodspor fra sidst er nu dækket af sand.

Jeg håber du bliver lam – oh, spurtende kamel,
for du løb så stærkt, at jeg ikke fik set min elskede.

Hvordan kan min elsker undgå at besejre landets fjender?
Jeg følger ham halvvejs til slagmarken.

Når den rejsende er døende, ved hans ansigt mod hjemstavnen, så han kan drage de sidste suk i fred.

*Alle digtet er gendigtet til dansk fra pashto*
*Ved Ole Lillelund og Adul Malek Beaksyar.*

## مأخذ:

Verdenshistorier – En alternativ kanon
Redigeret af Ditte Marie Munch-Hansen
1. udgave, 1.oplag 2009
Gyldendal
s. 171-181

**په ډنمارکي مرستندوی درسي کتاب کې د افغانستان د برخې له پاره د ښاغلي بېکسیار توزیحات:**

لکه څنګه چې مخکې هم وویل شول، د ډنمارک د تعلیمي نصاب په دې مرستندوی درسي کتاب «verdenshistorie» (نړیوالي کیسې) د افغانستان د برخې په پیل کې، په ډنمارکۍ ژبه باندې د ښاغلي بېکسیار توزیحات راغلي دي چې لنډون یې ما پښتو ژبې ته اړولی دی. دا زما د ژباړې متن دی:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ



### Om digtene

*Digtene fra Afghanistan er udvalgt og introduceret af **Abdul Malik Beakasyar**, som er født i 1964 i **Afghanistan**. Han kom til Danmark i 1991. Han er uddannet fra universitetet i afghansk litteratur, arbejder som forfatter og har indtil videre udgivet seks digtsamlinger i Afghanistan.*

Det afghanske samfund er hovedsageligt et digtlæsende samfund, og afghanerne kender mere til poesi end til nogen anden genre i litteraturen. I Afghanistan kan lyrikken deles op i to afdelinger. Den ene er de digte, der trykkes for og læses af en uddannet, "moderne" bybefolkning, som de to første digte, jeg har udvalgt, er eksempler på. Den anden afdeling er de mundtligt overførte korte landaydigte; som eksempel på dem har jeg udvalgt en lille samling på seks landay.

### Om natten bliver jeg barn

Digtet *Om natten bliver jeg barn* giver et klart billede af, hvordan livet har været i Afghanistan i de sidste 20 til 30 år. Karwan udtrykker med sit fine poetiske sprog en følelse, som alle afghanere vil kunne genkende. På vegne af hele samfundet viser Karwan i digtet sin skyldfølelse over for Afghanistans børn, som har måttet vokse op i et land med borgerkrig og ødelæggelse, og han viser, hvordan menneskene og forholdene i landet har ændret sig radikalt, fra han selv var barn. Alligevel

Afghanistan 171

د افغانستان ټولنې د ادبیاتو د نورو ژانرونو په پرتله شعر ته ډېره پاملرنه کړې ده. افغاني ټولنه اساساً د شعر لوستلو ټولنه ده او افغانان د ادب په اړه د نورو ژانرونو په پرتله شعر ته ډیره پاملرنه کړېده. په افغانستان کې، شعر په دوه برخو ویشل کیدای شي:

ـ یو هغه شعرونه دي چې د لوستو خلکو لخوا تخلیق، چاپ او لوستل کېږي،

ـ فولکلوریک شعرونه.

په لومړۍ برخه کې ما د دوو لوستو شاعرانو شعرونه غوره کړي دي او په دویمه برخه کې مې د فولکوریک شعر (لنډۍ) شپږ بېلګې را اخیستي دي.

**پیر محمد کاروان:**

کاروان په خپلې ښې شعرې ژبې سره «د شپې زه ماشوم کېږم» شعر کې، د افغانستان د تیرو شلو دېرشو کلونو ژوند، روښانه انځور وړاندې کوي. کاروان په خپلې ښې شاعرانې ژبې سره داسې احساس څرګندوي چې ټول افغانان به یې وپیژني. کاروان د ګردې ټولنې په استازیتوب، د افغانستان د ماشومانو پر وړاندې خپل ګناه په ډاګه کوي، هغو ماشومانو ته چې اړ شوي دي، په هغه هیواد کې را لوی شي چې د کورنۍ جګړې او ویجاړۍ سره لاس ګرېوان دی. کاروان دا ښیي چې څرنګه په هیواد کې خلکو او شرایطو په بشپړ ډول بدلون موندلی، څکه چې هغه په خپله یو ماشوم و. له دې سره ـ سره په دې شعر کې له وطن سره مینه هم ځلېدلې ده چې د افغانستان د شعر یو مهمه موضوع ده. شاعر د ماشومتوب دوران بایللی دی او هیله کوي چې بیا ماشوم شي، ښوونځي ته ولاړ شي او د ښوونځي په چمن کې، د چنار تر ونو لاندې کېنېني او خوشالي وکړي.

په شعر کې په څرګنده توګه د جګړې او بربادۍ پر وړاندې نفرت احساسېدلی شي. د شعر په پای کې له وطن افغانستان سره د مینې بیان خورا هنري دی. وطنپالنه په داسې ډول ښودل شوې ده چې شعر یې له سیاسي شعار نه راګرځولی دی ، چې دا یوه پر ځای او ځانګړې وطنپالنه ده.

پیر محمد کاروان نسبتاً ځوان شاعر دی، د ده د دویمې شعري ټولګې (چنار خبرې کوي) په خپریدو سره یې، نوم داسې مشهور شو چې اوس یې ټول خلک یادوي. هغه د لیکلو د ځانګړي سبک په پار، په پراخه کچه درناوی لري. دا به د حیرانتیا خبره وي چې په افغانستان کې چا د هغه شعر یا نه وي لوستلی او یا یې لږ ترلږه د هغه نوم نه وي اوریدلی.

د کاروان شهرت، تر ډېره د ده د غزلونو په پار دی او د ده د مینوالو لخوا هغه د غزل پاچا بلل کېږي، غزل له "ښځو سره د خبرو کولو" معنی رسوي او د شعر لیکلو یو ځانګړی فورم هم دی. دا د شعر هغه قافیه لرونکی فورم دی چې کله ـ کله ردیف هم په کې کارول کېږي. د بیتونو شمېر یې باید تر پنځو لږ نه وي او تر دیارلسو ډېر نه وي. د کاروان د شعر موضوعات بېلابېل مسایل جوړوي، خو کوم شعرونه یې چې د مینې په اړه لیکلي دي، افغانانو یې ډېر هرکلی کړی دی.

## استاد صدیق پسرلی:

د پسرلي شاعري، په شعر کې د هغه د ژور فکر له امله درنښت لري او د عادي لوستونکي له پاره یې پوهېدنه کېدای شي کله، کله ستونزمن وي. پسرلي ته ــ د هغه د کلام د پوخوالي په وجه ــ د ډېرو خلکو له خوا د استاد خطاب کېږي.

په دې شعر کې پسرلی د دې په باب خبرې کوي چې: څنګه یو څوک له هغه ځایه تېښتې ته اړ کېږي، چې دی په کې زالوی شوی وي، دا په افغانستان کې له ډېرو کلونو راپه دېخوا د ورځنې ژوند یوه برخه ده.

پسرلی په دې شعر کې د هغه چا په باب خبرې کوي چې وروسته له اوږده مهاجرت څخه بېرته خپل ښار ته راستون شوی دی، خو په ښار کې د ده د نه شتون په موده کې د پاملرنې وړ بدلونونه راغلي وي، دی نا څاپه پوهېږي چې دی هم بدل شوی دی او اوس هغه زلمیتوب نه دی ورپاتې چې د ښار د پرېښودو په مهال یې درلود. د دې شعر په لوستلو سره لوستونکی په خپل ښار او وطن کې د بېوازېتوب او پردیتوب احساس کوي.

## لنډۍ:

لنډۍ یو فولکلوریک شعر دی چې د ټولو خلکو مال ګڼل کېږي، لومړني ویونکي یې عام کلیوال او نالوستي خلک وو چې نسل په نسل سینه په سینه په شفاهي ډول تر موږ پورې رارسېدلي دي. لنډۍ د ډنمارک د منځنیو پېړیو سندرې لوستونکو ته وریاد کوي. لنډۍ د سیمو د ویش له مخې، په نورو نومونو هم یادېږي لکه: ټپه، مسره، او ټیکی. د لنډیو ډېره سلنه د مېرمنو له خوا تخلیق شوې ده.

د لنډۍ ویونکی معلوم نه وي او د ټولو خلکو مال ګڼل کېږي. ځینې لنډۍ د وخت په تېرېدو سره د خلکو هېرې شوې دي، خو هغه یې چې لوړ مفهوم او ښه هنري مزیت لري، د خلکو په حافظو کې پاتې دي او په ټاکلو ځایونو او وختونو کې یې په تکرار سره وایي. ډېر ځلې په سندور کې هم کارول کېږي او کېدای شي چې له موسیقۍ پرته هم زمزمه شي چې د ځانګړې منځپانګې یا محتوی لرونکې دي. ښځې په لنډیو کې ځان ښه را څرګندوي او په ازادنه ډول د خپل زړه خبرې په لنډیو کې کولای شي.

لنډۍ د افغانانو (پښتنو) یو ځانګړی شعري فورم دی چې په نورو ژبو کې نه شته، یوازې د جاپان هایکوګاني ورتوالی ورسره لري. لنډۍ له دوو نامتوازنو بیتونو څخه جوړه وي چې لومړی بیت یې نه سیلابه او دویم نیم بیتی یې دیارلس سیلابه وي. دلته تاسو ته د بېلګې په ډول د شپږو لنډیو ډنمارکي ژباړه وړاندې کېږي، خو لکه د پښتو ژبې غوندې په بله ژبه کې د لنډیو د دوو بیتونو سره برابرول یو ناشونی کار دی. تاسو یې وآزمېيئ، چې د لنډیو د دې بېلګو تر لوستلو وروسته، تاسو خپله لنډۍ جوړولای شئ.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ